# هغه څه پربږده چې تا په شک کې اچوي، او هغه اختیار کړه چې تا په شک کې نه اچوي

د ابو محمد الحسن بن علي بن أبي طالب - چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم لمسى او د هغه (كشمالى) محبوب دى - څخه روايت دى وايي چې: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه زده کړي چې: «هغه څه پربږده چې تا په شک کې اچوي، او هغه اختیار کړه چې تا په شک کې نه اچوي».

[صحيح دى] [الترمذي او النسائي روايت کړى دى]

نبي صلى الله عليه وسلم امر کړى چې له هغو خبرو او عملونو ځان وساتئ چې پکې شک لرئ، چې آيا منع شوي دي که نه، حرام دي که حلال؛ او پر ځاى يې هغه څه غوره کړئ چې شک پکې نه وي، او ته يې په ښه والي او حلال والي يقين لرې.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/66519